انجنیر عبدالصبور ساپی ۲۰۱۲/۰۹/۱۱

# دښاغلی قسیم فهیم خبرخه مانا لري:

اچول کېږي او بیا د هغه په اړوند نورې خبرې چې راوځي د هغه نه اصل مقصد ته سرې رسي، خو کله هم داسې شوي دي چې ځنې مشرانو یا دولتمدارانو خبر خطا شي بیا وروسته ویاندئي هغه اصلاح کړي او یا یو ډول پرده پرې واچوي خو ددا کله بې ارادي او کله هم د غبرګونو نو معلوملو لپاره ویل کېږي، کله هم امنیتي ارګانونه ځنې انګازې خپروي او بیا د هغه په اړوند معلومات ټولوي او د دغه معلوماتو پر بنېښت پرېکړې کېږي، نو د همدې خبر لپاره باید ووایم چې، ښاغلي قسیم فهیم کمه وینا چې د ښاغلي احمدشاه مسعود د مرګ په کالیزه کې وکړه دا یو ناڅاپي خبره نشي کېدی زما پراند په دې اړوند مخکې هم د شمالي ټلوالي اوهم په دولت کې د قدرت کړیو تر منځ خبرې شوي دي، اوس دوی دخپل ځان په قدرت کې د پاتېکېدلو او راتلونکې لپاره لاره هواره وي او غبرګونو نه توله وي، احساسات څېړي او خپلو مقصد و ته لارې لټوي آخر اوس خودا لس کاله کې دوی یوڅه زده کړي دي، هغه هم دځان ساتنه په قدرت کې، په دې برخه کې د ټوپکمارو سرونه خه کارکوي، یو د راتلونکي لپاره د مجاهدین په نام اتحاد جوړه وي او بل ورته د شطرنج لوبه کوي، او بل ورته د آوازو نغارې غږه وي ترڅو د خلکو په سترګو خاورې واچوي او حکومت وکړي او د دې بیچاره ملت هډو کې هم وزبېښي.

قسیم خان فهیم په کابل کې د سیاسي مشرانو یوې غونډې ته د وینا پر مهال ومنله چې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د امنیتي حالت د ویجاړېدو اندېښني شته چې د رنو او د ټول هېواد په کچه ولسمشریزو ټاکنو ترسره کول ګرانوي او په کار ده چې په ګډه "یوه پرېکړه" وشي.
ښاغلي فهیم همدا راز د اردو او پولیسو د ناکامی په برخه کې، د هغه چا د چمتو کېدو غوښتنه وکړه چې دی ورته "مجاهدین" وایي. قسیم خان زیاته کړه:
"زما په اند په دې وضعیت کې چې اوس موږ په کې یو او یا خدای مه کړه په افغانستان کې امنیتي وضعیت تر دې هم بدتر شي، زما باور نه راځي چې موږ دې سالم، شفاف او داسې ټاکنې ولرو چې په هغه کې د افغانستان ټول خلک په پراخه کچه د افغانستان ټولو خلکو برخه اخیستي وي او ګډون دې کړی وي". بی بی سی

د قسیم خان خبرې که وڅېړو نوپه دې خبروکې درې مهم ټکي دي چې په لاندې ډول ئې څېړو.
۱- د ټول ټاکنو په اړوند فهیم خان وویل چې امنیتي حالات د ویجاړېدو خواته راوان دي او د ټول ټاکنو ترسره کول ګران کار ده باید چې یوه پرېکړه وشي، د پریکړه نه د قیسم خان مقصد څه کې دی شي، بی ددغه مفسدو وطن دښمنو او چپاولګرو د واکمنی غځول، د د کار لپاره دوی غواړي چې یو شورا د لویې جرګې په شان را وغواړي او خپل واک ته قانوني بڼه ورکړي د لویې جرګې غږي هم ځرنګه چې د ستراتېژیک تړون په منظور ولوکې را ټول شوي و بیا په آسانه راټول کړي او خپل مخ پرې تور کړي او د ملت په سینه د یوې بلې دورې لپاره ګوندې ووهي.

د لته دا پښتنه را پور ته کېږي چې بهرني قوتونه د څه د پاره دي، او ده څه لپاره د ۲۰۱۴ز کالنه وروسته دلته پاتي کېږي مخکې له دې چې دغه قوتونه له افغانستانه ووځي باید ټول ټکاني تر سره شي او بیا دوی د وطن پرېږدي دا به له یوې خوا ناتو او امریکا ته یوه د اوروپزه جوړه کړي که څه هم دوی په دې تېرو لسو کلونو کې داسې یوه تیره کښې نښودله چې افغانان دې ترینه خیر وکړي خو د دغو ناامنیو تر شاه نور لوی مقصدونه هم پراته دي چې په سیمه کې د امریکي نفوذ او په طبعیي زېرمو باندې تسلط دید د بلې خواه که دا ټول ټاکنې تر سره نشي دا به د خارجیانو له پاره په نړی واله کچه یوه ستره ماته وي او پایلې دوام د جنګ په افغانستان کې.

ټول افغانان دې په دې پوه شي که د سل نورو کلو لپاره دا فعلی چارواکي او دا کرزی په دې خاوره حاکم پاتې شي دا جنګونه به همداسې روان وي او دا خلک به همدا شان د بی عدالتي فقر او بد مرغی سره مخ وي، نو که خلک ځان له دغه ناتارنه خلاصول غواړي داسې یو مشرتا به دې وټاکي چې هغه د پوهی عزت، شهامت، غیرت او ایمان خاوندوي او پرته د وطن مینه بل څه ئې په زړه نه وي د وطن عزت او سرلوړي خپل مصلحت وبولي نه دې څو فاسدو بی سواد و او وطن پلورنکو خوشاله ساتل.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

۲- بله خبر د قسیم خان په خبروکې مهمه دا وه چې د وویل « که پولیس او اردو ناکامه شي نو مجاهدین باید چمتووي»، د قسیم خان مقصد د مجاهدینو نه څوک دي چې دی ئې تیاری غواړي، خیر اوس، دی او کرزی او خلیلی او محمدی قانونی او رحیم وردک عطامحمد نور او همدرد، دا والیان وزیران، دفاع وزارت د کورنیو چارو وزارتو کارکونکي څوک دي؟؟ بیا قسیم خان دي ځان او کرزي او دا د قدرت ډله ټپله تعریف کړي ترسو موږ پوه شو چې دوی څوک دي، که دوی مجاهدین نه دي نو پیږدي قدرت دې مجاهدینو نه ته چې لاتر اوسه ئې څوک نه پیژني هغو چې جهاد فی سبیل الله وکړ او ځانونه ئې قربان کړهٔ نور زموږ سره نشته ، دې هغو په وینو خو د (قسیم صاحب) په شان کسانو چړچې وکړې اولا ئې کوی، په دغه ټول دولت کې به یو څو تنه وطن پال او واقعی خدمتګار شخصیتونه موجود وی چې هغوی د قدرت او صلاحیت خاوندان ندي، کله چې ښاغلی ربانی ولسمشر وه هغه وخت هم مجاهدین چې تاسوئې (فهیم صاجب) اوس یادوی چېرته وه هغوې ستا سو په اند څوک ؤ که مجاهدین نه وهٔ ؟؟

چې کابل او ټول وطن ئې وران کړ، قسیم صاحب ځان او خپل شاوخوا د هغه وخت په حساب څرنګه تعریفوی او په خپل ځان څه نوم ږدي مجاهد او که کم بل څه چې موږ لا نه پوهیږو، او هغه وخت څې ئې وکړهٔ؟؟؟

چې نن قیسم خان غواړي په دا خبرو خپل د جهات دوخت هغه قومندانانو زړه لاسه ته راوړي ، اوهم د هغو کسانو زړه لاس ته راوړي چې دوی تر اوسه ورته څوکی ندی ورکړی، او یا دوی هغو ته د څوکۍ ورکولونه بېره لري غواړي هغو ته داسې وښئي چې ږواکې (قسیم خان) د ولسمشر لمړی مرستیال ده خو بی واکه ده نو ځکه وائې چه مجاهدین له دندو لرې شوه۰۰۰ او مجاهدینو ته واک ورکړ شی ۰۰۰ او داسې نورې پرتې، خو په دې خبرو به یو څو بیسواده ټوپکمار تېر باسي نورټول پوهیږي غواه توره او شېدې سپینې دي.

۳- د امنیتی وضعیت په اړوند د فهیم خان خبرې په زړه پورې وې هغه دا چې دوویل :

«په دې وضعیت کې چې اوس موږ په کې یو او یا خدای مه کړه په افغانستان کې امنیتي وضعیت تر دې هم بدتر شي ټول تاکتی به ناسمې وي» په ټوله دنیاکې به چا تر اوسه دغسې یو بیسواده رهبر نه وي لیدلی چې هغه دې ووائې [حالت خراب دي او نور به هم خراب شي] تل رهبران په داسې حالاتو کې خلکوته ډاډ ورکوي او کله هم د ده لپاره چې دولت ځان په حالاتو مسلط وښئي نو انتخابات او یا دا شان نور مانورونه چې ضرور وی سرته رسوي تر سو د خلکو مور ال لوړ شي او په دولت باوري شي خو دغه فاسده او بی شرمه اداره ده، بې له دې چې نور خلکو ته هم ارزښت قایل شي او لږ فکر وکړي چې دلته نور خلک هم شته چې فکر او عقل لري او دا چلونه نور کار نکوي بس خپل پلانو لپاره لارې جوړوي، او فهیم خان دومره ساده و آسان وائې چې حالات

خراب دي اونورهم به خراب شي بس زما واک وغزوی، خوچې حالات خراب دې اودا ستاسو دلاسه شوي دي بیا ورځه په مخه مو ښه چې داسې یوڅوک راشي چې حالات جوړکړي نور تا ته اوستا ملګروته ضرورت نشته دټولونه ښه به داوه چې فهیم خان چې په کوم شهامت د حالاتود خرابي خبره وکړه ډېره به ښه وي چې په همداسې شهامت ئې ویلي وای چې [خلکو موږپه دې لسو کلوکې کارونشو کا ولې نوموږټول له خپل دندواستعفاء ورکوؤ] نوخلکوبه ویلي و چې رحمت دې په هغه شه چې تاته ئې شودې درکړي خوافسوس چې دې دې خبرشهامت نلري۰

څومره ساده اوآسان وائې چې حالات خراب دي باید زموږ واک نورهم وغزول شي ولې دلاروچاره اودهغه خنډونود لمنځه وړلوخبرهیڅوک نکوي چې داسې کړکیچېن حالاتې منځ ته راوړي اودخلکوژوندې په اوربدل کړی صرف یوه ډېره وړه کړۍ ده دغوحالاتونه ګټه پورته کوي اونوردژوند حق نلري.

دقسیم فهیم له سرکندولوداسې معلومیږي چې دبسم الله محمدی اوعبدالرحیم وردک له دندې ګوښکېدل هم د دې پلان برخه وي خوکه چېرې بسم الله محمدي بیاپه وزارت دفاع کې وټاکل شي اولسي جرګې هم دوزیرپه حیث ئې تائید کړي دانوبرالا یوداسې ثبوت دی چې ولسي جرګه هم دې دې پلان یوه برخه کېدی شي، اودعبدالرحیم وردک ومحمدي ګوښه کېدل دولسمشرپه مشوره اوپلان بایدترسره شوي وي.

ښاغلي کرزی، ښاغلې رحمت الله نبیل ئې ځکه له دندې لرکړ چې د کرزی په اند په امنیت کې سړی باید له دو کالو زیاد پاتې نشي. ولې؟

آیا دا سړی د خارجیانو سره لار پیدا کوی؟ آیا دا سړی رازونه بېرون باسې؟ یا له ډېرو رازونه خبرېږي ؟ زما پرې سرخلاص نشو خو که هرڅه وی دوې خبرې څرګندې دي، هغه دا چې په افغانستان کې امنیت ترهغه اندازې رسېدلی نه ده چې ټولې پروژې داسې فایل شي چې هر بل سړی چې راشي دهغه نه مکمله ګټه واخلي نوهرڅوک چې ځي دځینو پروژه مهم رازونه به هم له ځانه سره وري اوبل چې راځي ترسودغه پروژه سره بلددېږي نودوکاله به پوره وي اوبله داچې هرڅومره چې له امنیت نه کسان تبدیل شي همهغه اندازدرازونومحرمیت دپوښتنې لاندې راځي چې کنترولې په افغانستان کې په اوسنی شرایطوکې سخته خبرده، خواوس دغه خبرزما دغه لیکنې موضوع نده نوځکه زیادبحث پرې نکوم نوداخبرمې ځکه وکړه چې اوس کرزي صیب که دغه کارته یوخه اصل وائې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نومهرباني دې وکړي په خپله کرزی صیب دې هم خپله څوکې پرېږدي، د یوې خوابه قانون پلی شي او دبلې خوابه قدرت یو پوه باشهامت زړه سواند،زړوراو وطن پال غیرتي ، پوه سیاستمدارته ورسپېږي چې خپلې ګټې دوطن په ګټوکې وګوري اووطن د ترقۍ اوپرمختک خواته سوق کړی،نه چې دخپل ځان په قدرت کې دساتلولپاره هرمکویالیستي روغې جوړې ته تن ورکوي دلته هغه مشهوربیت ډیربنه صدق کوي چې وائې:

اګر این مسجد است و این ملا
حــال طـفـلان خـــراب می بینم

کـــه دا مسجـد او دا مـــلا وي
ماشوم حال راتـه خراب ښکاري

ومن الله توفیق


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ